*Utilities Unite for Customers*

## مرکزي INDIANA:

# د سهولتونو (اوبو او بریښنا) کومې مالي مرستې شتون لري او څنګه ورته غوښتنلیک استولی شم؟

Citizens Energy Group - د طبیعي ګازو، اوبو او فاضله اوبو مدیریت ځایي چمتو کوونکی - او AES Indiana - د بریښنا ځایي چمتو کوونکی - پوهیږي چې د سهولتونو (اوبو او بریښنا) بلونه پېرودونکي له مالي سختۍ سره مخامخولی شي. که چېرې تاسو د خپلو بلونو تادیه کولو ته اندیښمن یاست، نو د مرستې لپاره فدرالي او ځایي مرستندویه پروګرامونه شتون لري.

**لاربښوونه:** د مرستې اکثرو پروګرامونو لپاره په شرایطو برابروالی د کورنۍ په عاید پورې اړه لري. په تېرو دریو میاشتو کې په خپل عاید باندې پوهېدل کولی شي له تاسو سره ددې په ټاکلو کې مرسته وکړي چې کوم پروګرام ښایي ستاسو لپاره سم وي.

## پیلول: EAP

فدرالي EAP پروګرام د ډېری هغو اوسېدونکو لپاره تر ټولو غوره لومړنی ګام دی چې د اوبو او بریښنا بلونو په تادیه کولو کې د مرستې په لټه کې وي. په داسې حال کې چې نور پروګرام هم ښایي شتون ولري، خو دوی اکثره وختونه د EAP د غوښتنلیک د پایلې په اړه پوښتي. له EAP سره د پیلولو په اړه لاندې نور معلومات ترلاسه کړئ.

### د انرژۍ په برخه کې د مرستې پروګرام (EAP)

EAP د فدرالي حکومت له لوري تمویلېدونکی، د یو ځل ګټې پروګرام دی چې کولی شي د کور اوبو او بریښنا په لګښت کې له تاسو سره مرسته وکړي او کولی شي په هغه وخت کې له تاسو سره مرسته وکړي چې سهولتونو مو قطع شوي یا نږدې وي چې قطع شي. EAP ته د کم عاید لرونکو سره د انرژۍ په برخه کې د مرستې پروګرام ("LIHEAP") هم ویل کېږي.

د www.eap.ihcda.in.gov له لارې غوښتنلیک واستوئ یا ټلیفوني اړیکې نېټه وټاکئ ترڅو د EAP غوښتنلیک بشپړ کړئ:
317-808-2378

| د کورنۍ اندازه | د وروستیو 3 میاشتو عاید باید له دې اندازې څخه کم وي: |
|---|---|
| 1 | $8,059 |
| 2 | $10,539 |
| 3 | $13,018 |
| 4 | $15,498 |
| 5 | $17,978 |
| 6 | $20,458 |




### د اوبو او بریښنا سهولتونو د قطع کېدلو څخه د مخنیوي لپاره د EAP لپاره غوښتنلیک واستوئ:

د EAP لپاره ستاسو قبلېدل یا ردېدل څو اونۍ وخت نیولی شي، خو EAP غوښتنلیک بشپړول د Indiana د ژمي په موسم کې د سهولتونو د لنډمهالي قطع کېدلو په موده کې چې د دسمبر له 1، 2024 څخه تر مارچ 15، 2025 پورې ده، تاسو د اوبو او بریښنا له قطع کېدلو څخه ساتي. د سهولتونو د لنډمهالي قطع کېدلو په موده کې ستاسو د حساب په نظر کې نیولو لپاره باید د غوښتنلیک د استولو سند/ثبوت یا د قبلېدو لیک AES Indiana ته د aesindianaeap@aes.com او Citizens Energy Group ته د 317-924-3311 شمېرې له لارې د اړیکې نیولو په وسیله وسپارل شي.

که چېرې ستاسو د EAP غوښتنلیک ومنل شي، نو تاسو به د Citizens Energy Group د کم عاید لرونکو پېرودونکو سره د مرستې پروګرام (LICAP) څخه مرسته ترلاسه کړئ چې د فاضله اوبو په کمو بلونو کې په میاشت کې د $6 - $15 مرسته کوي او په جولای میاشت کې پیلیږي او همدارنګه تاسو به په اتومات ډول تر مۍ میاشتې پورې د خپل ګاز په بلونو کې له Citizens څخه 10 - 25 سلنه تخفیف ترلاسه کړئ.

## د EAP مهمې نېټې:

- **اکتوبر 1، 2024:** اوس آنلاین او د پسته خانې له لارې غوښتنلیکونه منل کیږي:
- **دسمبر 1، 2024:** د ایالت په کچه د سهولتونو لنډمهالي قطع کېدل په دې نېټه پیلیږي.
- **مارچ 15، 2025:** د سهولتونو لنډمهالي قطع کېدل په دې نېټه پای ته رسیږي.
- **اپریل 14، 2025:** د غوښتنلیک سپارلو وروستۍ نېټه.

## د United Way د Central Indiana د ژمي د مرستي صندوق(WAF)

WAF چې د Central Indiana د United Way له لوري يې ملاتړ کيږي، د Marion County د هغو اوسېدونکو لپاره دی چې سهولتونو (اوبو، برېښنا...) د زياتېدونکو لګښتونو په تاديه کولو کې له ستونزو سره مخ وي مګر د Indiana EAP په شرايطو برابر نه وي.

په دې پته له تاسو سره نږدې د غوښتنليک لېږلو مرکز ومومئ. uwci.org/waf داچې کوم ځايي مرکزونه غوښتنليکونه مني، په اړه يې د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره له 2-1-1 سره هم اړيکه نيولی شئ.

د ژمي د مرستي صندوق پروګرام موده له 1 جنوري 2025 څخه تر 31 مۍ 2025 پورې ده.

د WAF له قبلېدو يا رد په پام کې نيولو څخه پرته، تاسو بيا هم کولی شئ چې له Citizens' Warm Heart Warm Home Foundation™ څخه د AES Indiana د بدلون او مرستي قوت پروګرام ته غوښتنليک واستوئ.

### د WAF په شرايطو د برابر عايد حد

| د کورنۍ اندازه | د وروستيو 3 مياشتو د عايد اندازه بايد ددې ترمنځ وي: |
|---|---|
| 1 | 8.471,25$ - 8.060$ |
| 2 | 11.497,50$ - 10.540$ |
| 3 | 14.523,75$ - 13.019$ |
| 4 | 17.550$ - 15.499$ |
| 5 | 20.576,25$ - 17.979$ |
| 6 | 23.602,50$ - 20.459$ |

## Citizens Energy Group

د Citizen Warm Heart Warm Home Foundation™ (WHWH) غير انتفاعي سازمان دی چې له هغو پېرودونکو سره مالي مرسته کوي چې د سهولتونو (اوبو، برېښنا...) د بلونو په ورکولو کې له ستونزې سره مخ وي. د WHWH مالي مرسته کولی شي له پېرودونکو سره مرسته وکړي چې خپل سهولتونه له قطع کېدلو څخه وساتي او خپل تېر پاتي بلونه تاديه کړي.

په 3311-924-317 شمېره له Citizens سره د اړيکې نيولو په وسيله غوښتنليک واستوئ.

### د WHWH د عايد په شرايطو برابروالی

| د کورنۍ اندازه | د ووستيو 3 مياشتو عايد بايد په دې حد کې وي: |
|---|---|
| 1 | 9.402$ - 8.060$ |
| 2 | 12.296$ - 10.540$ |
| 3 | 15.189$ - 13.020$ |
| 4 | 18.082$ - 15.500$ |
| 5 | 20.975$ - 17.979$ |
| 6 | 23.868$ - 20.459$ |

نورې هغه لارې چارې چې په مرسته يې Citizens کولی شي له پېرودونکو سره مرسته وکړي چې خپل بلونه په ښه ډول مديريت کړي، لاندې ذکر شوي دي:

- **د انعطاف وړ د تاديي ترتيبات:** د خپلو بلونو د ورکړې تر مهاله يو ترتيب جوړ کړئ. له Citizens سره په 3311-924 -317 شمېره اړيکه ونيسئ.
- **د بلونو د بوديجي تاکل:** داچې تاسو هره مياشت بايد څومره تاديه کړئ، په اړه يې د پوهېدو لپاره ځان ثبت کړئ.
- **د کم لګښت کولو لاربښووني:** په کور کې انرژۍ او اوبه کمې مصرف کړئ ترڅو ستاسو د بلونو په راکمولو کې مرسته وکړي. په citizensenergygroup.com/My-Home/Conserve-Save کې لاربښووني ومومئ

## AES Indiana

د بدلون قوت، د AES Indiana يو پروګرام دی چې د Dollar Energy Fund له لوري اداره کيږي، د EAP يا WAF له لوري د قبلېدو يا ردېدلو په پام کې نيولو څخه پرته په شرايطو د برابر عايد لرونکو پېرودونکو سره د برېښنا بلونو په تاديه کولو کې يو ځل مالي مرسته کوي.

تاسو بايد لومړی EAP ته غوښتنليک واستوئ او يو لاندينيو څخه واوسئ: د EAP په شرايطو برابر يا په HIP، TANF، SNAP يا Medicaid په شرايطو د برابروالي سند ولرئ.

AES Indiana د تاديي په برخه کې د مرستي لپاره ډېر وسايل لري (په ښه ډول). د سپما يا د خپلي ارزونې د وخت ټاکلو لپاره د QR کوډ سکين کړئ.

- **د تاديي د وخت غځول:** د 3، 6، 9 او 12 مياشتو پلانونه شتون لري.
- **د بلونو د بوديجي ټاکل:** موسمي لوړ لګښتونه او کم لګښتونه په تعادل کې راولئ.
- **د بلونو د تاديي نېټي په خپله خوښه ترتيب کړئ:** د تاديي هغه نېټه وټاکئ چې ستاسو لپاره مناسبه وي.
- **د انرژۍ د کم لګښت پروګرام:** په راتلونکو بلونو کې د مرستي لپاره د خپلي انرژۍ مجازي يا په کور کې ارزونې وخت وټاکئ.